# زمونږ کلتور، زمونږ ویاړ

## د ناوړه ګټه اخیستنې لپاره هیڅ عذر نشته.

دا کتابچه د کورنۍ تاوتریخوالي او ناوړه ګټه اخیستنې په اړه ده.

SHAKTI

MINISTRY OF SOCIAL DEVELOPMENT
TE MANATŪ WHAKAHIATO ORA

Te Puna Aonui
Joint Venture for the Elimination of Family Violence and Sexual Violence




کورنۍ تاوتریخوالی او
ناوړه ګټه اخیستنه د
منلو وړ نه ده، مهمه
نده چې تاسو څوک
یاست یا له کوم ځای
څخه راغلي یاست.

**دا کتابچه کولی شي ستاسو سره مرسته وکړي که تاسو د ځان، خپلې کورنۍ، هغه چا په اړه چې تاسو یې پېژنئ، یا د خپلې ټولنې په اړه اندېښمن یاست.**

دا اړینه ده چې مونږ د خپلو کلتوري هویتونه پالنه کړو او په آوټیروا نیوزیلنډ کې خپل کلتوري دودونه وساتو. خو، دا سمه نه ده چې هغه کلتور چې مونږ پرې ویاړو په خپلو کورنیو او ټولنو کې د تاوتریخوالي او ناوړه ګټه اخیستنې لپاره د عذر یا توجیه په توګه وکاروو.

دا کتابچه کورنۍ تاوتریخوالی او ناوړه ګټه اخیستنه تشریح کوي. دا د هغه شیانو په اړه نظرونه ورکوي چې مونږ ټول یې کولی شو په خپلو ټولنو کې د ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي لپاره وکړو.

**کورنۍ تاوتریخوالی او ناوړه ګټه اخیستنه کولی شي په هرچا اغیزه وکړي. دا په هره ټولنه کې پیښیږي، په شمول د ستاسو.**





# کورنۍ تاوتریخوالی څه شی دی؟

**کورنۍ تاوتریخوالی هغه وخت دی کله چې یو څوک یو شخص ته زیان رسوي چې دوی ورسره نږدې اړیکه لري، لکه ملګری/ملګرې (پارټنر) یا د کورنۍ غړي.**

کورنۍ تاوتریخوالی د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالی یوه بڼه ده چې ښځې احتمال لري درې چنده یې ډیر تجربه کړي. د ټولو جنسیتونو او ټولو پس منظرونو خلک د کورنۍ تاوتریخوالي سره مخ کیدی شي. هرڅوک د باعزته ملاتړ ور دی چې د دوی د تجربو تایید وکړي.

| په قومي ټولنو کې په کورنۍ تاوتریخوالي کې دا شامل کیدای شي: | |
|---|---|
| د نږدې ملګري/ملګرې (د ژوند شریک) تاوتریخوالی او ناوړه ګټه اخیستنه | د جهیز پورې اړوند ناوړه ګټه اخیستنه |
| د ماشومانو ناوړه ګټه اخیستنه او غفلت | د "عزت پر بنسټ" تاوتریخوالی |
| د عمر لرونکیو ناوړه ګټه اخیستنه او غفلت | د ښځو د تناسلي غړو پرې کول/ غوڅول |
| د ملاقاتو (دیټنګ) تاوتریخوالي | همجنسبازي/د ټرانس فوبیا ناوړه ګټه اخیستنه |
| ځارل (تعقیبونه) | ځورونه |
| جبري واده | د کډوالۍ اړوند ناوړه ګټه اخیستنه |
| د کم عمر واده | د جګړې وروسته تاوتریخوالی |
| د کورنیو په نورو اړیکو کې تاوتریخوالی، پګدون د ماشوم/ ځوانانو څخه د مور او پلار/انا او بابا تاوتریخوالی، او د خسرګنۍ له خوا ناوړه ګټه اخیستنه | د ملک څخه بهر د واده پریښودل او ناوړه ګټه اخیستنه |

# ځواک او کنټرول په کډوالي او پناه غوښتونکي ټولني

## د ګواښ کارول

- په ډارونکي کتلو سره د هغې ويرول
- سوړ او بې خوابه پاتې کيدل
- د هغه شيانو ويجاړول يا اخيستل چې هغې ته ارزښت لري
- د فزيکي، جنسي، يا رواني پلوه هغې ته د زيان رسولو ګواښ کول
- د هغې کورنۍ او ملګرو سره ناوړه چلند

## د ماشومانو کارول

- د دې ګواښل که هغه تاسو پريږدي نو ماشومان به يې له ځانه سره بوځي
- د پيسو، ويزې، ملکيت په بدل کې د تنظيم شوي کوږدې يا واده لپاره د ماشومانو مجبورول
- د کم عمره ماشومانو مجبورول چې بهر کې نورو سره واده وکړي
- د نجونو په پرتله نارينه ماشومانو ته ارزښت ورکول
- د ماشومانو د لاسرسي په کارولو سره هغې ته د يادښتونو ليږل
- د هغې څخه د ماشومانو جلا کول
- د واده په توګه د ماشوم په ورکولو سره د کورنۍ پورونو تنظيم کول

## احساساتي، فزيکي، جنسي ناوړه ګټه اخيستنه

- هغې ته د بې ارزښته او بې ګټې احساس ورکول
- هغې ته د نومونه ويل، د بدن شرمول
- په هغې د دوکې تور لګول
- هغې ته د خپل ناوړه چلند لپاره د ملامتيا د احساس ورکول
- هغې ته ويل چې هغه د يوې 'لويديځې' ښځې په څير عمل کوي
- د هغې سره د غلام يا کورنۍ خدمتګار په څير چلند کول
- هغې ته ويل چې هغه 'رواني' ده او هيڅوک يې نه غواړي
- فزيکي/جنسي بريد
- په هغې باندې د سقط جبري کول
- د خسرګنۍ لخوا ناوړه چلند
- د زندۍ کولو هڅه کول
- په واده کې جنسي تيري

## جبر او ګواښونه

- د ويزې سپانسرشپ بيرته اخيستلو ګواښ
- د هغې د شړلو ګواښ
- هغې ديته اړ ايستل چې غيرقانوني کارونه وکړي پشمول د فحشا
- د هغې د پريښودو يا زيان رسولو ګواښ
- د هغې کورنۍ ته د زيان رسولو ګواښ
- د 'کورنۍ عزت' ته د زيان رسولو لپاره د هغې د وژلو ګواښ

## اقتصادي ناوړه ګټه اخيستنه

- د واده يا د ويزې سپانسرشپ په بدل کې د جهيز غوښتنه کول
- هغې ته د کار کولو اجازه نه ورکول يا د هغې د کار د معاش ساتل
- هغې ته د کورنۍ بانکي حساب ته لاسرسي نه ورکول
- غوښتنه کول چې هغه د پيسو لپاره کار وکړي او دا پيسې بايد ده ته ورکړل شي
- د هغه له اجازې پرته د پيسو مصرف کولو اجازه نه ورکول
- د پوره توضيحاتو غوښتنه چې پيسې څرنګه مصرف شوې

## د ځای کارول

- هغه څه کنټرول کول چه دا يې کوي، ګوري او يا له چا سره خبرې کوي
- د هغې د انفراديت، نظرونو او عقايدو د څرګندولو ورتيا ردول
- هغې ته اجازه نه ورکول چې له کورنۍ سره خبرې وکړي يا د ټيليفونو او غونډو څارنه کړل
- د هغې پيغامونه، بريښناليکونه لوستل يا د داسې اړيکو مخنيوی کول
- د کور دننه او بهر د کامرې نصب کول ترڅو د هغې د حرکتونو څارل وکړي
- هغې ته اجازه نه ورکول چې ملګرې ولري
- هغې ته اجازه نه ورکول چې موټر وچلوي يا موټر چلول زده کړي ترڅو هغه پرته له هغه څخه هيڅ ځای ته لاړه نشي

## د نارينه وو امتياز کارول

- د هغې سره د يو نوکر په څير چلند کول او هغه مجبورول چې د کور ټول کارونه وکړي
- هغو خواړو او جامو ردول چې هغه يې خوښوي
- د هغې د ناوړه ګټه اخيستنې او کنټرول لپاره د کلتور او دود څخه کار اخيستل
- د نارينه په توګه د خپلو حقوقو ټينګول او له همدې امله د خپلو حقوقو امتيازاتو رامينځته کول پر هغې باندې
- دا ويل چې هغه پوهيږي چې د هغې او کورنۍ لپاره څه غوره دي او پرته له هغې سره له بحث کولو څخه يې پلي کول
- په کور کې ټولې پريکړې کول او د هغې د حقوقو او خپلواکۍ څخه انکار کول

## کمول، انکار کول او ملامتول

- دا ويل چې ناوړه ګټه اخيستنه نه ده شوې يا دا هيڅ جدي نه ده
- د غوسه کولو او د هغې په وړاندې د تاوتريخوالي د لامل کيدلو لپاره د هغې ملامتول
- د هغې تورنول په لويديځې دود چې هغې ته د مرستي او يا هم د پريکړې توان ورکول دي چې دي پريږدي
- هغې ته ليونۍ او بې منطقه ويل
- نورو ته ويل چې هغه خپه ده او يا ځان وژنه کوي

# په اړیکه کې سالمه، غیر سالمه او ناوړه چلندونه

| | سالم چلندونه | غیر سالم چلندونه | ناوړه چلندونه |
|---|---|---|---|
| رواني | ښې اړیکې، خبرې اترې او انصاف، باور او ملاتړ، صداقت او حساب ورکول، د جنسیت او جنسي هویت او هوساینې درناوی کول او نور. | د بل کس نظر ارزښتناک نه ګڼل، د بل کس خبرې نه اوریدل یا د ستونزو په اړه د خبرو کولو لپاره چمتو نه وي پرته له جګړې او داسې نور. | ګواښونه، بد نوم ورکول، حسد، سپکاوی، د شیانو وهل، تعقیبول، د هغه څه کنټرول کول چې یو څوک یې کوي، وایي، ګوري او اغوندي، د جنسي تمایل یا جنسیت هویت سپکاوی/ بې احترامي کول، د دوی د 'ویستلو' ګواښ کول، د جبري اوښتلو درملنه او داسې نور. |
| فزیکي | غیر ګواښونکي چلند، د ځان خرګندولو لپاره د خوندیتوب احساس کول، د لیوالتیا او باخبره رضایت غوښتل او داسې نور. | په اړیکه کې د بل کس په اړه فکر نه کول، د لیوالتیا رضایت نه غوښتل، د ملامتیا څخه کار اخیستل ترڅو بل کس د هغه کارونو پر کولو فشار راوړي چې دوی یې نه غواړي او داسې نور. | وهل، لغته وهل، چیچل، فشار ورکول، زندي کول، د وسلو کارول، تیزاب اچول، د یو چا مخه نیول او داسې نور. |
| جنسي | | | جنسي تیری یا کوم جبري جنسي فعالیت، د واده جنسي تیری، ناغوښتل شوی لمس کول، د 16 کلونو څخه کم عمر لرونکي چا سره هر ډول جنسي فعالیت او داسې نور. |

| | سالم چلندونه | غیر سالم چلندونه | ناوړه چلندونه |
|---|---|---|---|
| **اقتصادي** | اقتصادي ملګرتیا، د پیسو پورې اړوند پریکړې یوځای کول، دواړه شریکان د مالي ترتیباتو څخه ګټه پورته کول او داسې نور. | د مالي چارو په اړه بحث نه کول یا دا فرض کول چې یوازې یو کس د پیسو مسؤل دی او داسې نور. | د یو چا د پیسو اخیستل، د دوی په نوم پورونه زیاتول، د ټولو رسیدونو چک کول، په چا فشار راوړل چې رسمي کاغذونه لاسلیک کړي، د ویزې ملاتړ بیرته اخیستلو ګواښ کول او داسې نور. |
| **روحاني** | د مذهبي آزادۍ څرګندولو توان، په کلتوري، روحاني او مذهبي هویتونو کې د آرامۍ او ډاډ احساس کول او داسې نور. | کلتوري او روحاني بې احترامي، د روحاني عقایدو یا کړنو سپکول، قضاوت کول یا د سټیریوټایپونو یا صحیفو کارول ترڅو په بل کس فشار راوړي چې هغه شیان ترسره کړي چې دوی یې نه غواړي او داسې نور. | د خپل روحاني یا مذهبي عقایدو څرګندولو څخه د یو چا منع کول، یو څوک مجبورول کلیسا/معبد/جومات او داسې نورو ته لاړ شئ. |
| **غفلت** | د روغتیا او هوساینې اړتیاوې په پام کې نیول کیږي، پاملرنه کیږي، او پوره کیږي، شریک مسؤلیت، مسؤل والدین او داسې نور. | د یو څانګړې ډول چلند د وړتوب احساس کول، د ملګرې څخه هغه تمې درلودل چې دوی یې نشي ترلاسه کولی، د بل کس د روغتیا او هوساینې اړتیاوو ته پام نه کول، د کورنۍ، ماشومانو، په کور او شاوخوا کې مشرانو ملاتړ نه کول او داسې نور. | د خوړو، درملو، سرپناه، تودوخې یا جامو نه چمتو کول، په څانګړې توګه د زړو یا معلولینو لپاره، ماشومان یوازې په کور کې پریښودل، طبي پاملرنه یا ټولنیز خدمات نه ترلاسه کول او داسې نور. |

# کورنی تاوتریخوالی په آوټیروا نیوزیلنډ کې جرم دی.

## د کورني تاوتریخوالي قانون 2018 دا مني چې کورنی تاوتریخوالی تل فزیکي نه وي او اجباري او کنټرولونکي چلندونه پکې شامل دي. په دې کې د ناوړه چلند نمونې هم شاملې دي چې یو کس د یوې مودې په اوږدو کې یې تجربه کوي او همدارنګه د ناوړه ګټه اخیستنې جلا پېښې.

د ناوړه ګټه اخیستنې او تاوتریخوالي نور ډولونه چې د آوټیروا نیوزیلنډ - قانون لخوا پیژندل شوي دي عبارت دي له:

### د ماشومانو ناوړه ګټه اخیستنه

- دا رواني ناوړه ګټه اخیستنه ګڼل کیږي چې ماشوم ته اجازه ورکړي چې کورنی تاوتریخوالی وګوري یا واوري ځکه چې دا کولی شي د دوی په پرمختګ او هوساینې ناوړه اغیزه ولري. که ماشوم یې شاهد وي نو دا د تاوتریخوالي سره د مخ شوي د مور یا پلار ګناه نه ده.
- د ماشومانو وهل د قانون خلاف دي، لکه څنګه چې احساساتي ناوړه ګټه اخیستنه، غفلت، او د 16 کلونو څخه کم عمر لرونکي چا سره هر ډول جنسي اړیکه د قانون خلاف دي.

### کم عمره او جبري واده

- که تاسو د 16 کلونو څخه کم عمر لرئ نو واده کول غیرقانوني دي. دا هم غیرقانوني ده چې یو څوک واده کولو ته اړ ایستل شي، په شمول د مذهبي یا کلتوري واده.
- د اوسني قانون له مخې، د واده یا مدني اتحاد مراسم په مجازی ډول نشي ترسره کیدی. دا پدې مانا ده چې هر ډول ودونه چې په ډیجیټل یا د تلیفون له لارې ترسره کیږي په آوټیروا نیوزیلینډ کې به په قانوني توګه ونه پیژندل شي.

## د جهېز پورې اړوند ناوړه ګټه اخیستنه

- د جهېز پورې اړوند تاوتریخوالی د 2018 د کورنۍ تاوتریخوالی قانون لاندې په آوټاروا نیوزیلنډ کې غیرقانوني او د منلو وړ نه دی.

## د ښځو د تناسلي غړو پرې کول/ غوڅول

- په آوټاروا نیوزیلنډ کې د ښځینه تناسلي غړو قطع کول جرم دی یا د یوې نجلۍ لپاره د هیواد پریښودو لپاره کوم ترتیبات نیول چې د ښځینه تناسلي غړو قطع کول ترسره شي.

## د بدلون درملنه

د بدلون د درملنې ترسره کول غیرقانوني دي:

- په هر هغه چا چې د 18 کلونو څخه کم وي، یا چې د پریکړې کولو وړتیا یې کمه کړې وي.
- په هر هغه چاچې د دوی د عمر په پام کې نیولو پرته، چیرې چې دا دوی ته جدي زیان رسوي.






قانون په هر کلتور او ټولنه او اړیکو کې د خلکو ساتنه کوي، پشمول د واده شویو جوړو، په مدني اتحادیو کې جوړې، همجنسبازان او د همجنسبازانو جوړې، پخواني شریکان، هلک هلک ملګري او نجلۍ نجلۍ ملګرې، ماشومان او ځوانان، دیو څاي اوسیدونکي ملګري او نور هغه خلک چې استوګنځی شریکوي.

پولیس او نورې اداري د کورنۍ تاوتریخوالی په جدي توګه په پام کې نیسي. دوی داسې خلک لري چې ستاسو د کلتوري شالید یا ژبې په پام کې نیولو پرته مرسته کولی شي. دوی کولی شي ژباړونکی تنظیم کړي چې ستاسو په ژبه خبرې کوي. تاسو اړتیا نلرئ چې د مرستې د ترلاسه کولو لپاره خپله کورنۍ پریږدئ.

## زمونږ کلتور زمونږ ویاړ او زمونږ د هویت سرچینه ده مګر د ناوړه ګټه اخیستنې لپاره هیڅ عذر نشته.

دلته ځینې شیان دي چې خلک د تاوتریخوالي د توجیه کولو یا عذر لپاره وایي، کوم چې کولی شي خلک په ناوړه ګټه اخیستونکو شرایطو کې نور هم راګیر کړي:

- تاسو زمونږ کورنۍ ته شرم راوړی دی.
- تاسو زمونږ د کورنۍ عزت مات کړی دی.
- ځوانان باید د خپلو مشرانو اطاعت وکړي.
- تاسو بالکل د یو نیوزیلینډي په څېر یاست. تاسو باید د زړو لارو درناوی وکړئ.
- دا هغه لاره ده چې موږ یې کوو.
- زمونږ په کلتور کې ټولې ښځې/نارینه/ماشومان باید دا کار وکړي.

په هر ځای کې چې کورنۍ تاوتریخوالی پیښیږي، خلکو د کلتوري پلوه د دې د بخښلو لپاره لارې موندلي دي. مګر کورنۍ تاوتریخوالی په هیڅ ټولنه یا کلتور کې سم نه دی.



# تاسو څه کولی شئ؟

**موږ غواړو چې ټولې کورنۍ خوندي او خوشاله وي.**



### که تاسو د ناوړه ګټه اخيستنې سره ژوند کوئ، نو پوه شئ چې:

- دا ستاسو ګناه نه ده. تاسو اړتيا نلرئ چې دي شرم احساس وکړئ.
- تاسو د ځان او ستاسو کورنۍ سره د خونديتوب احساس کولو کې د مرستې لپاره اختيارونه لرئ.
- تاسو کولی شئ د هغو خلکو سره خبرې وکړئ چې تاسو پرې باور لرئ، پشمول د ملګري، د کورنۍ غړي، همکار، ښوونکی، پالونکی، کارګمارونکی، روغتيايي کارکوونکی يا د کورنۍ تاوتريخوالي سره د مرستې خدمت.
- مرسته وړيا او محرمه ده. تاسو کولی شئ د خپل نوم له ښودلو پرته د مرستې لاين يا خدمت ته زنګ ووهئ. تاسو کولی شئ د ښځينه ډاکټر يا پوليس افسر سره د خبرو کولو غوښتنه وکړئ.
- دا سمه ده چې مرسته وغواړئ.

که تاسو، يا څوک چې تاسو يې پيژنئ، په خطر کې ياست، د پوليسو لپاره **111 ته زنګ** ووهئ، حتی که تاسو ډاډه نه ياست چې دا بيړنۍ حالت دی.

## که تاسو له تاوتریخوالي څخه کار اخلئ

ناوړه چلند د نورو لپاره زیان رسونکی دی، مګر دا ستاسو لپاره هم زیان رسونکی کیدی شي.

تاوتریخوالی یو انتخاب دی، او هرڅوک کولی شي د نورو د زیان رسولو پرته د خپلو احساساتو څرګندول او اداره کول زده کړي.

په یاد ولرئ چې تاسو او ستاسو چلند او بدلون د هر هغه چا لپاره ممکن دی چې غواړي د تاوتریخوالي یا ناوړه ګټه اخیستنې کارول ودروي.



# که تاسو غواړئ د بل چا سره مرسته وکړئ

**که تاسو یو څوک پېژنئ چې د کورنۍ تاوتریخوالي یا ناوړه ګټه اخیستنې سره مخ دی، تاسو کولی شئ د مرستې ترلاسه کولو لپاره د دوی ملاتړ وکړئ.**

### تاسو کولی شئ:

- په دوی باور وکړئ او په خواخوږۍ سره ځواب ورکړئ.
- د دوی کړنو ته درناوی وکړئ او د دوی د پرېکړې ملاتړ وکړئ.
- دوی ته ووایاست چې په کورنۍ کې تاوتریخوالی سم نه دی، مګر دا سمه ده چې مرسته وغواړئ.
- که چېرې دوی د ناوړه ګټه اخیستنې نښې ښکاره کړي نو ماشومانو ته پام وکړئ.
- د شته خدماتو په اړه خبرې وکړئ او د مرستې موندلو لپاره یې ملاتړ وکړئ.
- د روانو خبرو اترو لپاره دروازه خلاصه پرېږدئ او اړیکه ونیسئ.

په **16 مخ** کې ومومئ چې کوم ملاتړي خدمات شتون لري.



هغه خلک چې له تاوتریخوالي سره ژوند کوي ملاتړ ته اړتیا لري ترڅو په خپل وخت کې پریکړې وکړي، کله چې دوی چمتو وي دا مهمه ده چې د دوی په سرعت سره لاړ شئ. بدلون ډیر وخت نیولی شي. **لاس مه ترینه اخلي.**



# که تاسو په خپله ټولنه کې بدلون غواړئ

که مونږ غواړو د کورنۍ تاوتریخوالی او ناوړه ګټه اخیستنې مخه ونیسو، مونږ به د یوې ټولنې په توګه په ګډه اقدام وکړو - پشمول د دې چې پدې هکله خبرې کول هم سم کار دي.



**ستاسو په ټولنه کې د بدلون لپاره، تاسو کولی شئ:**

- د کورنۍ تاوتریخوالي او ناوړه ګټه اخیستنې په اړه د صفر زغم دریځ ولرئ.
- د صحي اړیکو او چلند بدلون په اړه زده کړه چمتو کړئ.
- د ژوندي پاتې شویو لپاره خوندي ځایونه جوړ کړئ.
- د هغو کسانو لپاره مسولیتونو ته وده ورکړئ چې تاوتریخوالی کاروي او د دوی د چلند د بدلولو لپاره د مرستې په ترلاسه کولو کې ورسره ملاتړ وکړئ.
- د سیمه ایزو کورنۍ تاوتریخوالي مخنیوي سازمانونو ملاتړ او وده ورکړئ.
- په خپلو ورځني تعاملاتو کې د زیان رسونکي جنسیت نورمونو او سټیریوټایپونو ننګونه وکړئ.
- د نارینه وو ملاتړ وکړئ چې د کورنۍ تاوتریخوالي او ناوړه ګټه اخیستنې په وړاندې دریځ ونیسي.
- زموږ د ډیرو حاشیه شویو یا زیان منونکو ډلو د ملاتړ اړتیاو ته پام وکړئ او ځواب ورکړئ، پشمول د ښځو، ماشومانو، ځوانانو، د رینبو ټولنې غړي، معلولین یا زاړه خلک، غیر انګلیسي خبرې کونکي، او هغه کسان چې په کلیو او جلا سیمو کې دي.

مونږ د ټولو کلتورونو ټولنې او عقیدې
مشرانو ته اړتیا لرو چې لاره رهبري کړي.

هره ټولنه پوهیږي چې د دوی لپاره څه
غوره کار کوي.

په ټوله آوټیروا نیوزیلنډ کې ښارونه،
ګاونډیان، کاري ځایونه، ښوونځي، او
د عقیدې او سپورت کلبونه د کورنۍ
تاوتریخوالي مخنیوي او د خوندي او
سالمو کورنیو د ودې لپاره اقدام کوي.



# اړیکې او نور مالومات

## که تاسو ملاتړ، مشورې یا له چا سره د خبرو کولو لپاره اړتیا لرئ، اړیکه ونیسئ:

NEW ZEALAND POLICE
Ngā Pirihimana o Aotearoa

### پولیس

- په بیړني حالت کې 111 ډایل کړئ
- د زنګونو وهل ورپا دي

که تاسو د خبرو کولو توان نلرئ، نو له تاسو څخه به وغوښتل شي چې که تاسو بیړني مرستې ته اړتیا لرئ نو 55 ته فشار ورکړئ.

SHAKTI

### شکتي

- 0800 742 584
- 0800 SHAKTI
- ورپا 24 ساعته د بحران کرښه

د آسیا، افریقا او منځني ختیځ اصلي اوسیدونکیو میرمنو، ماشومانو، ځوانانو او کورنیو لپاره خدمات.

WOMEN'S REFUGE

### د ښځو پناه ځای

- 0800 733 843
- 0800 REFUGE
- ورپا 24 ساعته د بحران کرښه

د کورني تاوتریخوالي په اړه مالومات، مشوره او ملاتړ او همدارنګه په بحران کې مرسته. کولی شي تاسو د سیمه ایزو میرمنو د پناه ځای سره وصل کړي.

## که تاسو ملاتړ، مشورې یا له چا سره د خبرو کولو لپاره اړتیا لرئ، اړیکه ونیسئ:

family violence
it's not ok

### ایا تاسو ښه یاست؟

- **0800 456 450**
- **د کورنۍ تاوتریخوالي وړیا مالوماتي کرښه**
- **areyouok.org.nz**

د ناامنه اړیکو په اړه مالومات، ستاسو لپاره شتون لرونکي ملاتړ او تاسو څرنګه د نورو ملاتړ کولی شئ. د ځوانانو، د رینبو ټولنې، معلولینو او زړو خلکو ملاتړ کونکو خدماتو لپاره آنلاین لټون وکړئ.

In Your Hands
Change Starts Here.
For you and your whānau.

### ستاسو په لاسونو کې

- **inyourhands.org.nz**
- **د 24 ساعته وړیا مرستې کرښه او آنلاین خبرې**

د هغو خلکو لپاره مالومات او ملاتړ چې تاوتریخوالی کاروي او غواړي خپل چلند بدل کړي.

### د Bright Sky اپ

د Bright Sky اپ د داونلود کولو لپاره د QR کوډ سکن کړئ





Print ISBN: 978-1-99-110530-1
Digital ISBN: 978-1-99-110531-8

دا کتابچه لومړی د شکتي او د ټولنیزې پراختیا وزارت (Ministry of Social Development (MSD)) لخوا د نیوزیلنډ په اوټیاروا کې د قومي ټولنو سره د مخ کیدو ځانګړو مسلو ته د کتلو لپاره رامینځته شوې وه. شکتي د کورنۍ تاوتریخوالي خدمت دی چې د نیوزیلینډ په اوټیاروا کې د آسیا، افریقا او منځنۍ ختیځ ټولنو سره کار کوي. په 1995 کې تاسیس شوی، شکتي د کلتوري پلوه وړ کورني تاوتریخوالي خدمات وړاندې کوي او د قومي میرمنو او ماشومانو حقو rو ته وده ورکوي.

دا کتابچه د MSD، شکتي، او تی پونا اونیوي قومي ټولنې شبکې غړو لخوا تازه شوې، چې پکې د آټیاروا قومي ټولنو ملاتړ کونکي یو لړ سازمانونه شامل دي.

6882MCP JUN 2025 Pashto